# د افغانستان اسلامي جمهوريت
## د کابينې مصوبه
## (٦) گڼه
## نیټه ۱۳۹۹/۳/۱

د افغانستان اسلامي جمهوريت د ۱۳۹۹ کال کابينې شپږمه غونډه په فوق العاده توگه د جلالتمآب جمهور رئیس محمد اشرف غني په مشرۍ د غبرگولي میاشتې په (۱) نېټه د پنجشنبې په ورځ له غرمې مخکې د کابينې غړو او والیانو په گډون د ویډیویي کنفرانس له لارې په ارگ کې جوړه او دغه پرېکړې یې وکړې.

**جلالتمآب ولسمشر پیلیزې خبرې او له اجنډا مخکې ځیني مهمې موضوع گانې:**

- د هیواد دفاعي او امنیتي ځواکونو شهیدانو او د کابل برچي دښتي په سل بستریز ملي روغتون، په ننگرهار ولایت کې د جنازې لمونځ کولو په مراسمو باندې د وروستیو ترهگریزو بریدونو او د هیواد په نورو ولایتونو کې د سولې او سوکالي دښمنانو بریدونو قربانیانو روح ته دعا کول؛
- د هیواد د دفاع او د هیوادوالو امنیت ټینگښت په ډگر کې د دفاعي او امنیتي ځواکونو سرښندونو قدرداني کول؛
- د ا.ا. ج کابينې غړو، والیانو او د افغانستان ټول ولس ته د کوچني اختر مبارکي ویل؛
- په کرونا وېروس د هیوادوالو د ډېر اخته کیدو مخنیوي په موخه د اختریزو لیدنو کتنو څخه د ډډې کولو په اړه د هیوادوالو څخه غوښتنه او د عامې روغتیا وزرات روغتیایي تدبیرونو او لارښوونو په پام کې نیولو ټینگار؛
- پېښنو ته د رسیدنې په چارو کې د دولت وزیر ښاغلي غلام بهاء الدین جیلاني او په پارلماني چارو کې د دولت وزیر ښاغلي ضیاء الحق امرخیل ته د کابينې په غونډه کې د گډون له امله ښه راغلاست ویل؛
- په مرکز او ولایتونو کې د ډوډۍ ویش غوره مدیریت له امله د والیانو، ښاروالانو او په ځانگړې توگه د کابل ښاروال څخه مننه کول او د اختر په ورځو کې د همدې لړۍ په دوام ټینگار؛
- د بهرینو چارو وزارت سرپرست، د سولې په چارو کې د دولت وزیر څخه د رغنده ډیپلوماسۍ او تلپاتې سولې ته د رسیدلو په موخه د سیمه ییزې را ټولیدنې (اجماع) رامنځته کولو له امله مننه کول؛
- له ښاغلي حمدالله محب او ښاغلي معصوم ستانیکزي څخه د سیاسي پوهاوي رامنځته کولو په برخه کې د اغیزمنو گامونو اخیستلو او د ښاغلي ډاکټر عبدالله عبدالله تر رهبرۍ لاندې د مصالحې عالي شورا جوړیدو له امله مننه کول؛
- د کرونا وېروس څخه د عامې روغتیا وزیر د روغیدو له کبله د خوښۍ څرگندول؛
- په مرکز او ولایتونو کې د کرونا وېروس سره د مبارزې په موخه د عامې روغتیا وزارت او بېړنیو کمیټو اخیستل شویو گامونو له امله قدرداني کول؛

**د اجنډا لومړی موضوع:** د اقتصادي ستونزو او اندیښنو په بنسټ د اصنافو او هټۍ والو پر فعالیت په تدریجي توگه د بندیزونو له منځه وړلو او ټاکل شوي مهال ویش سره سم د لیږدونکو وسایطو تلو راتلو تنظیم طرحه؛

**وړاندې کوونکی:** ښاغلی د کابل والي ؛

| | د کابينې پرېکړه : | موده |
|---|---|---|
| ۱ - ۱ | د اصنافو او هټي والو غوښتنې په بنسټ د اقتصادي ستونزو او اندیښنو له کبله د اصنافو او هټۍ والو په فعالیت په تدریجي توگه د بندیزونو له منځه وړلو او ټاکل شوي پلان او مهال ویش سره سم د لیږدونکو وسایطو تلو راتلو تنظیم طرحه د عامې روغتیا وزارت روغتیایي تدبیرونو او لارښوونو ته په کتو تائید ده؛ دکابل والي ته دنده سپارل کیږي، چې یاده طرحه د ښار تگ راتگ وسایطو په ډله کې د کابل ښاروالي وسایطو له شاملولو وروسته، د صرافانو او بانکونو لپار د ځانگړو کاري ساعتونو تنظیم او د روغتیایي تدبیرونو په پام کې نیولو سره په تدریجي توگه د بندیزونو له منځه وړلو په اړوند د اصنافو غوښتنلیک او لیکلي ژمنې اخیستلو سره پلي کړي. | - |
| ۱ - ۲ | د کرونا وېروس خپراوي څخه د مخنیوي بیړنۍ ملي کمیټې ته دنده سپارل کیږي، چې د اقتصادي ستونزو او اندیښنو په بنسټ د اصنافو او هټۍ والو پر فعالیت په تدریجي توگه د بندیزونو له منځه وړلو او ټاکل شوي مهال ویش سره سم د لیږدونکو وسایطو تلو راتلو تنظیم طرحه د عامې روغتیا وزارت روغتیایي تدبیرونو او لارښوونو په پام کې نیولو سره پلي کړي. | - |

| د کابینې پرېکړه : | | موده |
|---|---|---|
| ۱- ۳ | د کرونا ویروس خپراوي څخه د مخنیوي بېړنۍ ملي کمېټې ته دنده سپارل کیږي، چې د اصنافو او هټۍ والو پر فعالیت په تدریجي توگه د بندیزونو له منځه وړلو طرحې پلې کیدو اغیزې هره اوونۍ وڅیړي او پایله یې د کابینې وروستیو غونډو ته وړاندې کړي. | اوونیزه توگه |
| ۱ - ۴ | د اقتصادي پراختیا، سوداگریزو او بیوزلي په چارو کې د ولسمشر ځانگړي استازي ته دنده سپارل کیږي، چې د مسافرینو شمیر او عامې روغتیا وزارت لارښوونو ته په کتو سره له کابل څخه ولایتونو او برعکس یې د مسافر وړونکو بسونو تگ راتگ اجازې څرنگوالي په اړه د ټرانسپورټ سکتور او همدارنگه د کورنیو الوتنو بیا پیل په اړوند له هوایي شرکتونو سره پوهاوی وکړي؛ ترڅو په تدریجي ډول یې فعالیت بیرته پیل شي. | دوه اوونۍ |

**د اجنډا دویمه موضوع:** د هیوادوالو لخوا په مرکز کابل او ولایتونو کې د قرنطین بې ساري کموالي،د گرځبندیز او قرنطین نه پام کې نیولو په اړه د عامې روغتیا وزارت اندیښنې او همدارنگه د ښاریانو لیدلو اقتصادي او ټولنیزو ستونزو په بنسټ له قرنطین څخه د تدریجي وتلو بهیر څرنگوالی؛

**وړاندې کوونکی:** ښاغلی د عامې روغتیا وزارت د روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو مرستیال

| د کابینې پرېکړه : | | موده |
|---|---|---|
| ۲ | افغانستان اسلامي جمهوریت کابینې د هیوادوالو لخوا په مرکز کابل او ولایتونو کې د قرنطین بې ساري کموالي،د گرځبندیز او قرنطین نه پام کې نیولو په اړه د عامې روغتیا وزارت اندیښنې پرځای وبللې؛ یاد وزارت ته یې دنده وسپارله، چې د اقتصادي او ټولنیزو ستونزو ته په کتو سره له قرنطین څخه د تدریجي وتلو او پړاوونو نهایي طرحه ژر تر ژره جوړه او د کابینې وروستیو غونډو ته دې وړاندې کړي. | یوه اوونۍ |

**د اجنډا دریمه موضوع:** په ملکي ادارو کې د کرونا خپریدو مخنیوي په موخه د کاري رژیم تنظیم پر څرنگوالي بحث؛

**وړاندې کوونکی:** ښاغلی میوند رهیاب د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمیسیون د تعیناتو بورډ کمیشنر؛

| د کابینې پرېکړه : | | موده |
|---|---|---|
| ۳ - ۱ | په ملکي ادارو کې د کرونا ویروس ډیر خپریدو څخه د مخنیوي په موخه له اختر وروسته په دوو کاري وختونو (سهار او ماسپښین) د ملکي ادارو ورځنۍ کاري رژیم تنظیم تصویب ده؛ د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمیسیون او د کار او ټولنیزو چارو وزارت په گډون د جمهوري ریاست دویم مرستیال تر نظر لاندې کمیټې ته دنده سپارل کیږي، چې په ملکي ادارو کې د کاري وختونو (شفټونو) تاکلو په اړه گامونه واخلي او همدارنگه د کرونا (کووید ۱۹) ویروس خپریدو مخنیوي په موخه د کاري رژیم تنظیم کړنلاره او ورسره مل ضمیمو او تعدیلاتو بیاځلي کتنه ترسره او نوې طرحه عملي کړي. | عاجل |
| ۳ - ۲ | د لوړو زده کړو، پوهنې، کار او ټولنیزو چارو او عامې روغتیا وزارتونو په گډون د جمهوري ریاست دویم مرستیال تر نظر لاندې کمیټې ته دنده سپارل کیږي، چې د هیواد اوسني روغتیایي ترینگلي حالت ته په کتو د اقتصادي پراختیا، سوداگریزو او بیوزلي په چارو کې د ولسمشر ځانگړي استازي له سلا وروسته د ښوونځیو، دولتي او خصوصي پوهنتونونو فعالیت پیل څرنگوالي په اړه هر اړخیزه طرحه چمتو او د حکومت رهبرۍ غونډې ته دې وړاندې کړي. | عاجل |

**د اجنډا څلورمه موضوع:** دکووید - ۱۹ سره د مبارزې په برخه کې د یو شمیر ملي او نړیوالو موسساتو د همکاري او مرستې منظوري غوښتنې په اړه د عامې روغتیا وزارت وړاندیز؛

**وړاندې کوونکی:** ښاغلی د عامې روغتیا وزارت د روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو مرستیال؛

| د کابینې پرېکړه : | | موده |
|---|---|---|
| ۴ - ۱ | د یونسیف UNICEF مؤسسې له مرستې پرته د Islamic Relief World، په افغانستان د جرمنې Help او World Vision International موسساتو مرستو او همکاریو منظوري په اړه د عامې روغتیا وزارت وړاندیز تصویب ده؛ عامې روغتیا وزارت دې پریکړې سره سم کړنې ترسره کړي. | - |

| | د کابينې پريکړه : | موده |
|---|---|---|
| ۴ – ۲ | عامې روغتيا وزارت ته دنده سپارل کيږي، چې د UNICEF او WHO دفترونو له لوري په افغانستان کې د کرونا ويروس سره د مبارزې په اړه د لګول شويو پيسو لګښت راپور ژر تر ژره وغواړي او د جمهوري رياست لوړ مقام ته دې وړاندې کړي. | دوه اونۍ |
| ۴ – ۳ | چارو ادارې لوی رياست ته دنده وسپارل کيږي، چې د ماليې وزارت په مرسته او بهرنيو چارو وزارتونو سرپرست نظرونو ته په کتو سره د هيواد سره د ملي او نړيوالو موسساتو د همکارې او هغو مرستو په اړه چې د کرونا ويروس سره د مبارزې په موخه کوي؛ د منظورونکې مرجعې په معلوماتو سره د منظورې ټاکلې چټر چمتو او د کابينې وروستيو غونډو ته دې وړاندې کړي. | يوه اونۍ |

**پنځمه موضوع:** بيلابيلې پريکړې:

| | د کابينې پريکړه : | موده |
|---|---|---|
| ۵ – ۱ | بهرنيو چارو وزارت ته دنده سپارل کيږي، چې د کرونا ويروس سره د مبارزې په موخه د بهرنيو هيوادونو مرستو روښانه راپور چمتو او د حکومت رهبرې غونډې ته دې وړاندې کړي. | دری اونۍ |
| ۵ – ۲ | عامې روغتيا وزارت ته دنده سپارل کيږي، چې د ماليې وزارت او سيمه ييزو ارګانونو په مرسته په مرکز او ولايتونو کې د کرونا ويروس سره د مبارزې په موخه د ليږدول شويو پيسو لګښتونو څرنګوالي هر اړخيز راپور ژر تر ژره چمتو او د کابينې وروستيو غونډو ته دې وړاندې کړي. | دوه اونۍ |
| ۵ – ۳ | کورنيو چارو وزارت ته دنده سپارل کيږي، چې د قرنطين تنظيم او نافذيدو مديريت او د خلکو سره د پوليسو چلند په اړه هر اړخيز راپور چمتو او د جمهوري رياست لوړ مقام ته دې وړاندې کړي. | عاجل |
| ۵ – ۴ | د احصايې او معلوماتو ملي ادارې ته دنده سپارل کيږي، چې هيوادوالو ته د مرستو ويش بهير ودې او غوره مديريت په موخه بريښنايي پيژندپاڼو لړۍ ګړندۍ کړي. | - |
| ۵ – ۵ | د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت ته دنده سپارل کيږي، چې د عامې روغتيا او سيمه ييزو ارګانونو په مرسته د کرونا ويروس خپريدو څخه د مخنيوي په موخه د هيوادوالو له خوا د عامې روغتيا روغتيايي تدبيرونو او لارښوونو پام کې نيولو سره خلکو ته د پوهاوي او اطلاع رسولو ډيروالي په موخه ګامونه واخلي. | عاجل |
| ۵ – ۶ | د ارشاد، حج او اوقافو وزارت ته دنده سپارل کيږي، چې د هيواد مرکز او ولايتونو عالمانو شورا په مرسته په اوسني روغتيايي حالت کې د اختر لمانځلو مراسمو څرنګوالي او د کرونا ويروس خپريدو خطرونو په اړه خلکو ته د اطلاع ورسوي؛ ترڅو خلک د عامې روغتيا وزارت قواعد او لارښوونې په پام کې ونيسي او د اختر په ورځو کې له ليدنو کتنو او راټوليدنو څخه ډډه وکړي. | عاجل |
| ۵ – ۷ | عامې روغتيا وزارت ته دنده سپارل کيږي، چې د سيمه ييزو ارګانونو په مرسته د کرونا ويروس ځپلو درجې ميزان ته په کتو د ملي او نړيوالو بنسټونو او موسساتو مرستو عادلانه ويش په برخه کې د هيواد په ليرو پرتو سيمو ډير تمرکز وکړي. | - |

- د مصوبې پلي کېدو څخه څارنه د جمهوري رياست چارو ادارې لوی رياست د کابينې چارو سمون رياست په غاړه ده.

**محمد اشرف غني**

**د افغانستان اسلامي جمهوريت رئيس**